SHARIAT WEEKLY
شريعت
اوونيزه
په اوونى كي دوه ځله خپريږى
دافغانستان دطالبانو داسلامى تحريك مركزى نشراتى ارګان
دريم كال اتمه ګڼه   پرله پسي (۱۰۸) چهارشنبه د۱۳۷٦ هـ ش كال د سلواغي دمياشتي (۲۹) د۱۹۹۸ميلادي كال فبروري (۱۸) د۱٤۱۸هق كال د شوال المكرم (۲۱)

قهرماني هاي ملت مجاهد ما در زمينه خروج ارتش سرخ از افغانستان طي محفلي ستوده شد

قهرماني هاي ملت مجاهد ما در زمينه خروج ارتش سرخ از افغانستان طي محفلي در اداره شعر و ادب وزارت اطلاعات و كلتور ستوده شد . خبرنگار هفته نامه شريعت خبر ميدهد كه اخيراً به مناسبت فرار ارتش سرخ از افغانستان و ستودن قهرماني هاي ملت مجاهد ما كه چنين نيروي بزرگ وحشي و ظالم عصر را از كشور عزيز خود مجبور به فرار ساختند محفل شانداري در اداره شعر و ادب وزارت اطلاعات و كلتور داير گرديد .

اين محفل كه برخي از اعضاي رهبري تحريك اسلامي طالبان هيئت رهبري امارت اسلامي افغانستان، روساي ادارات و تعداد كثيري از علماً ، دانشمندان شعرا و ادباي كشور در آن اشتراك ورزيده بودند با تلاوت آيات چند از كلام الله مجيد توسط محترم قاضي نور حسن «سليمانخيل» آغاز گرديده سپس محترم داكتر باز محمد مسؤول اداره شعر و ادب ضمن بيانيه اي از قهرماني هاي ملت مجاهد ما در رابطه به شكست ارتش سرخ در افغانستان ياد آوري نموده سپس محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتكي» معين كلتوري وزارت اطلاعات و كلتور و مدير مسؤول هفته نامه شريعت بيانيه ارزشمند و عالمانه شان را ايراد نمودند كه در قسمتي از بيانات شان گفتند : زمامداران شوروي سابق و نوكران داخلي آنها خيال مي كردند كه افغانستان هم مانند آسياي ميانه و اروپاي شرقي به بخشي از اتحاد شوروي تبديل گرديده و هيچ قوتي موجود نيست تا ارتش سرخ را از افغانستان خارج كند الحمد لله ثم الحمد لله كه ملت مومن، مجاهد و آزادي دوست ما چنان ضرباتي بر پيكر آنان وارد نمودند كه بر علاوه افغانستان آسياي ميانه و اروپاي شرقي نيز از لوث ارتش سرخ پاك و نظام وحشي كمونيستي از جهان محوگرديد.

متعاقباً محترم داكتر محمد نذير احمد زي در مورد نتايج هجوم ارتش سرخ بر افغانستان صحبت نموده شكست ارتش سرخ و نابودي كمونيزم را از افتخارات تاريخي ملت مجاهد افغان قلمداد نمودند، بعداً چند تن از شعراي محبوب كشور هر يك محترم نصر الله «حافظ» محترم سميع الله «سميع» ص ٤»

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډير نږدي دى تقوا(پرهيزگارى) ته .

(سوره المائده)

حكمتيار د رباني په خيالي حكومت كي د عظمى صدارت له قبولو نه ډډه وكړه

حكمتيار په مزار كي د رباني په خيالي حكومت كي د عظمي صدارت د منصب له قبلولو نه ډډه كړيده او ويلي يي دي چي د ټولو ډلو په ګډون دي يو عبوري حكومت جوړ شي

د نواي وقت ورځپاڼي د يكشنبي ورځ د سلواغي د مياشتي د شپږويشتمي ګڼي د خبر له مخي حكمتيار په شمال كي درباني په حكومت كي د عظمي صدارت د منصب له منلو نه ډډه كړيده او ويلي يي دي چي دا ډول حكومتونه د هيواد د كړكيچ د حل په ځاي روان بحران لا اوږدوي .

په خبر كي ويل شويدي : چي د شمال په اصطلاح د متحدي جبهي مشرانو (دوستم، كريم خليلي، مسعود او ... په تهران كي اوسيدونكي حكمتيار ته وړانديز كړيدي چي شمال ته څلورم مخ

د بهرنيو چارو د وزارت معين محترم مولوي سيد محمد «حقاني» د يوې غونډي په ترڅ كي ددې وزارت منسوبينو ته ورو پيژندل شو

په كندهار كي د اطلاعاتو او كلتور پخواني رئيس محترم مولوي سيد محمد «حقاني» چي په دي وروستيو كي د عاليقدر امير المؤمنين د فرمان په اساس د بهرنيو چارو د وزارت د معين په توګه ټاكل شويدي د يوي غونډي په ترڅ كي ددي وزارت منسوبينو ته ور وپيژندل شو .

څلورم مخ

د عاليقدر امير المؤمنين له لارښوونې سره سم د افغانستان د اسلامي امارت لخوا په خوراكي موادو او درملو بار څليرويشت لاري جنس د رستاق د ولسوالي له زلزله ځپلو سره مرسته وشوه

د عاليقدر امير المؤمنين له لارښوونې سره سم د سلواغي په ۲۷ مه د دوشنبي په ورځ د افغانستان د اسلامي امارت په خوراكي موادو او درملو بار څليرويشت لاري د رستاق په ولسوالي كي د وروستي زلزلي له امله له مصيبت ځپلو كسانو سره مرسته وشوه .

د شريعت اوونيزي خبريال خبر راكړ دغه څليرويشت لاري خوراكي مواد او درمل د افغانستان د اسلامي امارت لخوا د رستاق په ولسوالي كي د وروستي زلزلي له امله زمونږ له مصيبت ځپلو هيوادوالو سره بيړني مرسته وشوه .

په پام كي ده چي د افغانستان د اسلامي امارت لخوا برابر شوي خوراكي مواد او درمل د اسلامي امارت د اوه كسيز هيأت لخوا د وروستي زلزلي له امله په مصيبت ځپلو كورنيو باندي وويشل شي .

د اوبو او بريښنا سرپرست وزير محترم الحاج ملا محمد عيسى آخند او د كانونو او صنايعو سرپرست وزير محترم الحاج مولوي احمد جان له شريعت اوونيزي سره په مركه كي :

په دوه و مياشتو كي دننه به د كابل د صنعتي پارك د بريښنا جريان تأمين شي

د اوبو او بريښنا سرپرست وزير محترم الحاج ملا محمد عيسى آخند

دوه مياشتي وروسته به د ۵۰ زرو تنو لپاره په دي پارك كي د كار زمينه برابره شي

۱۵۰ تنو سوداګرو په دي پارك كي د پانګي اچولو لپاره ثبت نام كړيدي

د كانونو او صنايعو سرپرست وزير محترم الحاج مولوي احمد جان

درنو لوستونكو ! زمونږ خبريال د څرخي پله د صنعتي پارك د بريښناد بيا فعالولو او ددي پارك د بيا احيا په هكله د اوبو او بريښنا د وزارت له سرپرست وزير محترم الحاج ملا محمد عيسى آخنداو د كانونو او صنايعو د وزارت له سرپرست وزير محترم الحاج مولوي احمد جان سره مركه كړي ده چي لوستلو ته يي ستاسو محترمو لوستونكو پام را اړوو.

د اوبو او بريښنا سرپرست وزير محترم الحاج ملا محمد عيسى آخند زمونږ د خبريال پوښتني ته داسي ځوابونه وويل :

پوښتنه : لكه څنګه چي د شريعت خپرو راډيو ځپولو لاري داسي خبر خپور شو چي د څرخي پله صنعتي سيمي ته د بريښنا مزي غزول كيږي او له دي پلوه د نوموړي سيمي ستونزي حل كيږي لطفاً ووايأست چي د نوموړي سيمي د بريښنا د بيا فعالولو اړتيا څه ده او دغه كار تاسي په خپلو انجنيرانو كوي او كه د بل چا سره مو قرار څلورم مخ

امريكا در افغانستان در تلاش ساختن حكومت بدون اشتراك طالبان است

اين برنامه از حمايت كامل روسيه و ايران برخوردار ميباشد

امريكا در افغانستان براي ساختن چنان يك حكومت تلاشهاي خود را آغاز نموده است كه تحريك اسلامي طالبان در آن شامل كرده نخواهد شد و بجاي طالبان روشنفكران مناطق پشتو زبان در آن شامل خواهند شد .

طبق گزارش منابع خبري منطقوي اين حكومت توسط لويه جرگه ساخته خواهد شد و ايران و روسيه نيز از اين برنامه حمايت نموده اند و پاكستان نيز زير فشار قرار دارد .

پروفيسور مارون كه از پاكستان و افغانستان در حال ديدن است در شرق ميانه طي يك كنفرانس مطبوعاتي گفته است كه امريكا ميخواهد در افغانستان حكومت طرفدار خود را به ميان آورد كه بدون طالبان همه گروه ها در آن شامل كرده خواهند شد .

تلاشهاي جديد امريكا خود مبين آنست كه تحريك اسلامي طالبان يك نظام كاملاً شرعي و اسلامي را در كشور نافذ نموده كه كفر جهاني كه نهايت سرسام نموده است و استكبار و در رأس آن امريكا هيچگاه از اين عمل طالبان خوشنود نمي باشد و نميشود طوريكه خداوند كريم فرموده است : و هرگز نه يهود و نه نصري از تو راضي خواهند شد تا آنكه از دين و ملت آنها اطاعت نه كني.

وهمچنين گذشت زمان ثابت نموده و آينده نيز ثابت خواهد نمود كه كي ها نسبت به اسلام و ملت مخلص بودند و كي ها براي اجانب خدمت نموده و با اسلام و ملت خيانت نموده اند .

استراليا نظام خود را تغيير مي دهد

استراليا نظام خو را تغيير مي دهد و عهده گورنر جنرال در آن كشور از بين برده مي شود

طبق گزارش منابع خبري جهان : استراليا نظام موجوده خود را به نظام جمهوريت تغيير مي دهد استراليا فيصله كرده است كه عهده گورنر جنرال را از بين ببرد و بجاي آن رئيس جمهور انتخاب شود. كارشناسان ميگويند كه اگر اين فيصله عملي گردد حيثيت ملكه اليزابت دوم به حيث سر براه مملكت از بين خواهد رفت .

د كونړ ولايت عامه كتابتون پرانستل شو

د.كونړ ولايت عامه كتابتون د سلواغي په ۲۷ مه د دوشنبي په ورځ ددغه ولايت په مركز كي د يوي غونډي په ترځ كي پرانستل شو .

په هغي غونډه كي چي له همدي امله جوړه شوي وه لومړي د كلام الله مجيد څو آياتونه ولوستل شول او وروسته د كونړ ولايت والي محترم مولوي عبدالهادي اخندزاده او ددغه ولايت امنيه قوماندان اودغه رازد ولايت مرستيال په وار سره د مطالعي دارزښت په باره كي خبري وكړي.

دغه عامه كتابتون د كونړ ولايت د والي لخوا د پټي په پريكولو سره پرانستل شو .

كه عراق پر موږ حمله وكړه نو په اتوم بم سره به ځواب وركړو

د اسرائيلو ګواښ

لندن (اي پي پي، اف پي، اي- اين اين - كي پي آي)

امريكا په خليج كښي خپل پوځي قوت وار په وار زياتوي د امريكا د دفاع وزارت ٤٠ نوري جنګي الوتكي د فارس خليج ته ليږلي دي چي په مخوي كي بمبارد كوونكي د جاسوسي او... طياري شامل دي. همدارنګه د خليج په فضايي اډو او طياره وړونكو بيړيو كښي دجنګي طيارو شمير تر ۳۵۰ زياتشوی دی.

له بلي خوا اسرائيلو خبرداري وركړي د ه چي كه عراق په اسرائيلو حمله وكړي نو دوي به يې ځوابي حمله كښي داتوم بم نه كارواخلي.

د امريكا غږ په حواله د اسرائيلو صدراعظم نيتن ياهو له اسرائيلو راډيو څخه په بوه خپره شوي اعلاميه كي ويلي دي چي كه څه هم عراق د حملي نه كولو څلورم مخ

د صنعتي پاركونو د پروژي د بريښنا د مزو غزولو كار د يوي غونډي په ترځ كي پيل شو

د صنعتي پاركونو د پروژي د بريښنا د مزو د غزولو تار د سلواغي د مياشتي په ۲۷ مه د دوشنبي په ورځ د يوي غونډي په ترځ كي پيل شو

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي په دغه غونډه كي چي د قرآن عظيم الشان د څو مباركو آياتونو په تلاوت سره پيل شوه د كانو و صنايعو وزارت سرپرست محترم مولوي احمد جان پداسي حال كي چي د اوبو او بريښنا وزارت سرپرست محترم ملا محمد عيسى اخند او ددغه وزارت معين محترم قاري حمد الله او د اوبو او بريښنا وزارت يو شمير كاركوونكي انجنيران او مشوبين حاضر و د صنعتي پاركونو د پروژي د بريښنا د مزو د غزولو كار پرانست .

د كانو او صنايعو وزارت څلورم مخ

حكم تحقيقات در مورد دستبرد بودجه مهاجرين افغان در پاكستان صادر گرديد

۱۹۰ مليون كلدار از بودجه مهاجرين افغان در امور شخصي و محافل عياشي حيف و ميل گرديده است

كميسيون محاسبات عامه در شوراي ملي پاكستان حكم صادر نموده كه در حصه دستبرد هاي كه در بودجه مهاجرين افغان صورت گرفته ست تحقيق صورت گيرد . جلسه كميسيون محاسبات عامه شوراي ملي پاكستان اعلام داشته كه مامورين بند رتبه و پائين رتبه كمشنري افغان در حدود ۱۹۰ مليون كلدار را از بودجه مهاجرين افغان حيف و ميل موده و از مبلغ مذكور براي خود ها قصر هاي مجلل اعمار و موتر هاي لكس خريداري نموده اند . ص ٤»

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د علماوو كرامو كميسون

د افغانستان اسلامي امارت چي د سولي راوستلو په هڅو كي د علماوو كرامو د يوي شوري (كميسيون) د جوړولو او هغو ته د بشپړ واك او صلاحيت سپارلو وړانديز كړي ؤ مخالفينو د هغه وړانديز منل اعلان او خپله خوښه يي ورباندي ښكاره كړي وه؛

له ډير ځنډنه وروسته يي د يو نيمګړي نوم ليك (ليست) كاپي د افغانستان د اسلامي امارت مقاماتو ته استولي ده چي هغه پوره د علماوو كرامو ليست نه دي له دي امله د منلو وړ هم نه دي؛ ځكه د افغانستان اسلامي امارت د قرآن مجيد (... و ان تنازعتم في شئ ...) له هدايت سره سم غواړي چي د مخالفينو خلاف د اسلامي شريعت له لاري غوڅ كړاي شي او په شريعت خو يوازي علماي كرام پوهيږي نو دا خبره په هيڅ اصل او قاعده برابره نه ده چي د علماوو كرامو كار غير علماوو ته وسپارل شي، كه نه! نو دا به بيا د قرآن مجيد له بل هدايت نه سرغړونه وي چي فرمايي : (... امانتونه د امانتونو اهل ته وسپاري) په دومره غټه او مهمه موضوع كي چي په هغه كي په زرګونو نخبه افغانان شهيدان او وژل شوي دي د شرعي حكم صادرول ډير لوي امانت دي او ددغه امانت اهل يوازي په شريعت پوه علماي كرام دي، كه غير علماوو ته دغه كار سپارل كيږي نو مثال به يي دوهم مخ

د جاپاني مسلمانانو مړي سوزول كيږي !!

په جاپان كي ميشته مسلمانان هديره نه لري

د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي جاپاني مسلمانان او په جاپان كي ميشته بهرني مسلمانان د خپلو مړو په اړوند له ډيرو ستونزو سره مخ دي ځكه چي دوي د مړو خښولو لپاره هديره نه لري . د نړيوالو خبري سرچينو د خبر له مخي : د جاپان په اساسي قانون كي راغلي دي چي په جاپان كي اوسيدونكي انسانان بايد له مرګه وروسته وسوزول شي او هلته هديري وجود نه لري له همدي كبله د مسلمانانو د مړو د څلورم مخ

خوشخبري توأم با تمنا

به ياري خداوند متعال بعد از اين انشاء الله هفته نامه شريعت هفته دو مرتبه نشر خواهد گرديد . اداره هفته نامه تصميم دارد تا صفحات اختصاصي اي تحت عناوين : [د نن ځوانان د سبا مشران، د هنر او ادب نړي، عرفان او تصوف د تاريخ هنداره، صحت و سپورت، خلك څه وايي؟ ، مسايل قضايي و حقوقي ، ، اردو د ديني او ملي ارزښتونو ساتونكي، ورزن و جامعه] را يكي پي ديگر به دست نشر بسپارد بدين ملحوظ از عموم علما ، دانشمندان، شعرا ، ادبا ، محققين و غيره قلم بدستان كشور اعم از خواهران و برادران صميمانه تقاضا بعمل ميآيد تا با ارسال مضامين، مقالات علمي و اشعار شان ما را در اين راه ياري بخشيده و اخبار خويش را هرچه بيشتر تزئين و توقير بخشند.

اداره

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني پهپاکستان‌کی(۳) کلداری
آدرس : کابل وزیرأکبر خان مینه/سرك۱۱/ کور (۵۲۰)
تیلفون : ۲۱۳۸۱- پوسټ‌بکس: (٤۷۱)
په پیښور کي :دطالبانونمایندګی‌تیلفون: ۸۱۵٦۲۷-۸۱۸۱۵۷-۸٤٤۳۳۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز د دولتی مطبعی چاپ

د سرمقالي پاتي برخه

داسي وي لکه د قولبي بزګرته چې د پیلو پ دنده وسپارله شي، له دي امله غیر علماء د علماي کرامو په کمیسیون کي هیڅ رول نه لري او نه د علماوو کرامو تر عنوان لاندي ځاي لري، که له علماوو کرامو پرته نور ځوك په دغه کمیسیون کي د شاملیدلو هڅه کوي او یایي مخالفین د شاملولو هڅه کوي هغوي د منل شوو اصولو په ضد لګیا دي، په دغه صورت کي د لیست د مستردولو پوښتنه منځ ته نه راځي چي ګویا اسلامي امارت د علماوو لیست مسترد کړ، بلکي د لیست د نیمګړتیا پوښتنه په منځ کي پرته ده، ځکه د لیست له غوښتني سره سم کسان پکښي پوره نه دي؛

ځینو خبریالانو چې د اسلامي امارت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له محترم سرپرست سره په مرکه کي په وار وار سره هڅه کوله چې د مخالفینو په لیست کي نامنظور کسان په ګوته کړي هغه مناسبه نه ګڼله چې ووایي : دا تور دي، او دا سپین دي دا د هغه یوه اخلاقي او احترامانه رویه وه؛

اوس به مخالفین د نیمګړي نوم لیك(لیست) په سپارلو سره د سولي له خبرو اترو نه‌ځنګ کولو ته پلمه جوړوي او یا به علما ورسره نه وي، که له سولي نه د یو چا د.ګټهو لپاره تیښته کوي هم ملامت دي او که علما ورسره نه وي او یایي تر ولکي لاندي سیمو کي علماي کرام وي مګر دوي اعتماد نه ورباندي کوي هم ملامت دي په دواړو صورتونو کي ګرم دوي دي ځکه : همدا دوي دي چي له علماو سره یي دښمني را اخستي ده په زرګونو بي وژلي دي او وژني یي، په زرګونو یي اسیران کړي او بیایي په ډلو ډلو ژوندي په ځاګانو کي اچولي او وژلي دي؛

که د افغانستان له اسلامي امارت نه ځني خواخوږي کسان د نرمښت هیله او غوښتنه کوي نو که اسلامي امارت ددې لپاره چي د هیوادوالو او اسلامي امت د سولي هیلي تالاوالا نه شي له دغه شرط نه تیر شي چي د کمیسیون علماي کرام دي یوازي اهل سنت والجماعة وي، دا کافي تنازل او نرمښت دي او که له دي نه هم تیر شي چي د کمیسیون علماي کرام دي د سیمي د مشهورو مدرسو سند یافته وي دا کافي نرمښت دي، مګر دا خبره ضروري ده چي د کمیسیون علماي کرام به په علم او نیك عمل مشهور او په شر مت پوه خلك وي که‌څه هم تحصیلات یي په خصوصي مدرسو کي کړي وي؛

همدارنګه ضروري ده چي د مخالفو ډلو له خوا به پوره او لیکلي واك او صلاحیت ورته سپارل شوي وي چي د دوي له پریکړي نه به هیڅ سرغړونه نه کوي، که نه دا کوي او نه هغه، نو بیا یوازي د وخت تیرول، د خپل ځان او خپلو خلکو تیر ایستل دي .

د افغانستان اسلامي امارت به تروسه ، وسه پوري د سولي د ګټورو او مشرو خبرو اترو پلوي کوي او په کړي ژمنه به ثابت پاته وي که د مخالفینو لیست تکمیل شي نو ډیر ژر به د خپلو علماوو کرامو لست منځګړي مرجع ته وسپاري . انشاء الله تعالي .

کوم حقوق - څه ور آزادي؟

پټی پاڼی

شهرت ننګیال

معلوميږي چې پښتنو په اروپا کې هم د افغانستان د تورسرو له غمه ناکراره ده، او لګیا ده په اصطلاح د افغانستان د تور سرو حقوق ګټي، تر دي خبري د مرحوم تراب هغه شعر سړي ته یادیږي چې له المان نه یې د یو محترم لیکوال د یوې جریدي د «سنګر» په اړه ویلي ؤ:

د ممورزي هغه «سنګر» ته سلام
چې له آلمان نه په «میدان» ؤزي کا

اوس وروسره یوه بله امریکایي الیونس میل هم مل شوي او غواړي د ښځو د بین المللي ورځي په مناسبت د کابل تور سرو ته «ګل» ورکړي. خو داپي نه ده څرګنده کړې چې څه ورګل یا کوم رنګ ګل؟ د ګل ورکړه خپله یو تعبیر لري او رنګونه یې هم هر یو د بیلا بیلو تعبیرونو څرګندوي وي سور ګل یو تعبیر لري ژیړ ګل بل، د نور محمد تره کي مستعار نوم سورګل ؤ پدي نامه ده ډیري لیکني خپري شوي دغه ورژیړګل . شینګل او تور ګل که د ګلانو نومونه دي نو د خلکو نومونه هم دي . آخر پدغه ګل به د کابل ښځي څه وکړي و به یې خوري، وابه یې غوندي، که د رنځونو درمل به یې کړي ؟

په افغانستان کي د ښځو د حقوقو په اړه د الیونس میل یوه اندیښنه یا اعتراض دا دي چې ددي په وینا په کابل کي به ټك ټکي بوټونو بندیز لګول شوي، پدي اړه لومړي خبره چې کیداي شي هغه داده چې افغانستان پوښه افغانان پوه شه نارینه او تور سري بي، جامي او بوټونه یې، رابه شو ټك ټکي بوټونو ته پدي اړه تر اوسه د حکومت د بندیز کوم رسمي اعلان او حکم نه دي خپور شوي . او نه دا مساله دومره ارزښت لري چې حکومت دي یکي دلچسپي ولري بله خبره دا چې د ټك ټکي بوټونو به پښو کول به د تور سرو کومه ستونزه حل او کوم درد دوا کړي چې الیونس میل دومره ورته وارخطا ده فرض کړه که تور سرو دا بوټونه په پښو نه کړل . څه زیان به ورته ورسیږي او له کومي ستونزي سره به مخامخ شي او که یي په پښو کړل او ټك ټك یې آن د پښتنو او الیونس میل تر غوږونو ورسید د کابل جګړې ځپلیو تور سرو ته به یې څه ګټه ورسیږي .

یو بله خبره چې ښایي څرګنده شي هغه دا ده چې یواځي د کابل ښار ټول افغانستان نه دي په ولایتونو یا هم اطراف کې دا مسأله په طبیعي ډول حل ده د، د ټولنیزو مناسباتو له اړخه حل ده او د دیني ملي او کلتوري ارزښتونو له مخې حل ده او پدي اړه کومه ستونزه او ویره نشته نه له نارینه ؤ سره څه پوښتنه شته او نه له تور سرو سره څه اندیښنه . اوس که په کلیو او اطرافو کي افغاني تور سري راپورته شي او د اروپا او امریکا د تور سرو لپاره د پردي او عفت حقوق وغواړي چې ځانونه پټ کړي پرتوګ واغوندي او ټیکري پر سر کړي پښتو او الیونس میل به یې حق په جانب وګڼي ؟

بنیادي خبره دا ده چې غرب غواړي چادري افغاني تور سري نه یواځي دا چې بندیز نه ګڼي بلکي د خپلي حیا او عفت ساتونکي یې بولي ، که داسي وي کیداي شي سبا بل سبا پښتنو او الیونس په کابارو او کلبونو کي ډانسونه او نڅا هم د تورو سرو حقوق وبولي، برینډ ګرځیدل یې د حقوقو درناوي وګڼي او د کابل د تورو سرو لپاره هم دغسي درناوي او حقوق وغواړي، د پښتنو او الیونس میل په وړاندي د ښځو حقوق او درناوي همدا دي چې برینډي وګرځي، په کابارو او کلبونو کي دي ډانسونه او نڅاوي وکړي، سکس فلمونه تر ډك شي او لکه مال او متاع سوداګري پري وشي او دواکمنو، پانګوالو او سیاستوالو د جنسي، هوسونو د خړوبولو لپاره تري استفاده وشي، چې د سپیني ماڼي د جنسي بیلاریو دوسیي او د پالا جونز او مونیکا لیوونسکي برخلیك یوه ړوکي مثال دي .

خو په کابل کي اوس تور سري د ټوپکیانو د هوسونو له سپین سترګیو په امن دي ، د هوسبازو نظرونو له تعقیب نه محفوظي دي، د پوستو او پاټکونو له هوسرانیو او تیښتونو ویره نه لري اوس بي افغانان تر خوړ ګوتي ونیسي له همدي ځایه ده چي له ترکستان نه د غاز او تیلو د نل لیکو دغزولو په لار کي هم دغي حربي ته لاس غزول کیږي او د کابل د تور سرو لپاره د ټکي ټکي بوټونو په بدل کي د شل ملیونو افغانانو په مري پښه ایښودل کیږي، پښتنو پرده او حجاب بندیز ګڼي، په افغانستان کي د ښځو د وضعي د تمثیل لپاره چادري په سر کوي او دا ښیي چې په کابل کي له ښځو سره داسي او دومره تیري کیږي څو پرده او ځوك په زور او تزویر په جبر او اکراه نشي نکاح کولي . اوس ځوك د تور سرو د زیږون د سیل او ننداري جرات نشي لرلي بلکي په ډاډه زړه په شرعي حجاب کي درني او سترمني ګرځي او خپلي ژوندني چاري تر سره کوي او اوس د مکروریانو له ځلوریږ پور نه د خپلي حیا او عفت په خاطر د مرګ غبرږي ته پناه ور وړلو ته نه اړ کیږي .

آخر ټك ټکي بوټونه او بر بنډ ګرځیدل به د هغوړیو او ستونزو په له منځه وړلو کي څه مرسته وکړلی شي چې د افغانستان تورسري ورسره مخامخ دي هغوي ته به کومه یوه ګوله ډوډۍ پیدا کړي ؟ دارو درمل به ورکړي که څه بل مشکل به یې حل کړي .

حقیقت دا دي چې په افغانستان کي د تور سرو او نارینه وو ټول مدني او انساني حقوق د تیرو واکمنو او جګړو له امله لوټل شوي او د فقر، لوږي، مرګ بداملي او نورو ګواښونو سره یې مخامخ کړي چې ټك ټکي بوټونه او بي حجابي یې هیڅ درد نشي دوا کولي، اوس که پښتنو او الیونس میل په ریښتیا هم د افغانستان د تور سرو غم په سر اخیستي وي مهرباني دي وکړي د تیرو واکمنو او جګړو له مرګونو میراثو نو سره دي په مبارزه کي له تور سرو ریښتني او ضروري مرسته وکړي، په روغتیایي او داورپي ستونزو کي دي لاس ورکړي، ددغه ملت اقتصادي او تجارتي پروژې دي په یوه او بله پلمه نه سبوتاژ کوي د فقر او ویجاړ اقتصاد په بیا رغاونه کي دي د هغوي غم وخوري او دوراني کورونو په اباداولو کي دي ورسره مرسته وکړي که نه نو لږ ساړه دي وخوري افغانان د خپلو تور سرو په حقوقو له ټولو ښه پوهیږي پښتو مثل دي : تر مور نشوه میره ګرانه . د افغانستان اوسني قیادت د همدغو تورسرو اولاد دي هغوي د خپلو خویندو میندو حقوق له تورو ښه پیژني او په درناوي یې ځانونه مکلف ګڼي .

ښه به دا وه چې الیونس میل لومړي د پالا جونز پر عفت او حقوقو دا کیښا ایالت د پخواني والي او اوسني جمهور رئیس د تیري په دوسیه کي د هغي د حقوقو په اعاده کي مرسته او همکاري کړي وای چې د یوه هوټل په ځانګړي خونه کي یې جنسي وراندیز نه دنه ویلو له امله له قانوني ترفیع نه یې برخې کړي وه که الیونس میل له پالا جونز سره مل شي کیداي شي هغه د دوو ملیونو ډالرو تاغه تر لاسه کړي .

د جنسي بد کرداري کوم نوي تار چې له ۲۲ کلني مونیکا لیوونسکي سره په سپینه ماڼي کي زغلول شوي داسي معلومیږي چې سپینه ماڼي د کاسیري یوه اړه ګرځیدلي وي افغانستان دي خداي له داسي حقوقو درناوي، آزادي او رسوایي نه ساتي .

نقش سیاست در بهبود حیات اجتماعی جوامع بشری

عبدالوکیل «عمري»

سياست گاهي بنام فن اداره اجتماع و گاهي هم تدبير و سايل زندگي، ايجاد محبت، تعاون و همبستگي بين افراد جامعه تعريف و توصيف گرديده است . طرق و بكار بستن روشها براي اداره اجتماع از دشوار ترين زمينه هاي فعاليت اجتماعي آدمي و سر آمد آنها است . اجتماع كه از اقشار مختلف با طرز ديد گوناگون تركيب يافته ، اتخاذ روشها براي اداره آن از قابليت هاي است كه از طرف سر براهان همان اجتماع وضع ميگردد . در جهان امروز آن گاه كه از جامعه سياسي سخن ميرود ، بي گمان به جامعه ملي يا كشور، ملت ود ولت با همه نهاد هاي تقنيني، قضايي، سياسي، اداري، حربي صنعتي، فرهنگي، هنري و ... مي انديشند كه جامعه سياسي مي تواند در برد اشته باشد. والا ترين هدف سياست و ددانش سياسي سامان دادن و اراده خردمندانه زندگي مردم (ملت) به دست قدرت حاكم (دولت) برگزيده مردم در درون سرحدات شناخته كشور و پاسداري از امنيت ملت در بيرون سرحدات است، يكي از مفاهيم سامان دادن ارتقا و تكامل جامعه است از نهاد بطرف اصلاح، و منظور از اصلاح دربنجا اصلاح اجتماعي است جوامع امروزي تنها در پندار نظريه پردازان بوده به معني جامعه ارماني تحقق نپذيرفته است . براي ساختن جامعه آرماني كه در متون اسلامي به ساختن آن رهنمايي گرديده و در صدر اسلام عملا موجود بوده است كه جهان و جهانيان را مدبرانه رهبري و رهنمايي كرده است

از آن آوان الي حال جهان پيشرفته از نگاه تكنالوژي تخنيك و تاكتيك كه ديدگاه آن فقط به ماديات و اندوخته هاي مادي محدود ميگردد، نظريه هاي فراواني درين زمينه داده و تبين شده كه بيش ترين انها پندارگرايي ها و خيال پردازي هاي ناب است و ارزش علمي و عملي ندارد، زيرا جامعه مورد نظر سياسي بر پندار هااستوارنبوده، بلكه پابواقعيتهاساختهشدهاست.

جامعه اسلامي و افغاني ما كه تحريك اسلامي طالبان پي ريزي كرده و در حال تكميل ابعاد آن ميباشد، بدون شك به جامعه صدر اسلام همانند است، زيرا جامعه سياسي آرماني ما به اساس ارزشهاي اسلامي متناسب با خواست و شرايط اجتماعي مردم بنا يافته، اميال و خواست اتباع در آن بخوبي منعكس گرديده است .

ريشه آرمان خواهي بسياري از فعالان سياسي درجستجوي آرمان شهر صرف نظر از آرمان و خواست قرآ و دهات شكل گرفته كه از نا آگاهي آنان از واقعيت هاي تاريخي است و نميدانند كه جامعه آرماني و سياسي تنها با پندار ها و نظريه ها ساخته شده است بلكه انگيزه هاي متنوع، پيچيده، آشكاري يا پنهان شناخته شده يا ناشناس در پديد آوردن و سامان دادن آن در درازاي تاريخ مؤثر بوده است . اگر همه ساخت و بافت جامعه را معلول و نتيجه تنها يك انگيزه مانند اقتصاد، آب و هوا و موقعيت جغرافيايي بدانيم ، بي آنكه از ياد ببريم كه فضاي فرهنگي ميتواند هميشه بزرگترين و مهم ترين عامل در پديد آوردن رويداد هاي سياسي باشد. اگر پندار گرايان به قدرت برسند و در سطح رهبري جامعه قرار گيرند، براي نگاهداري آن ناچار خواهند بود كه نظريه ها را با عمل و واقعيتهاي جامعه و خواست هاي انبوه مردم هماهنگ سازند و گرنه به بن بست خواهند رسيد. پندارگرايان چپي كه با الهام گرفتن از حزب كمونيست شوروي سابق و يا بكار بستن طرق و شيوه اي كه از طرف انترناسيوناليسم جهاني برايشان ديكته ميشد و مغاير ارزشهاي اسلامي و افغاني جامعه ما بود، فقط در قالب شعار و خواست شان خلاصه ميگرديد، زيرا هيچگونه تناسب با خواست مردم نداشته و مطابقت با شرايط عيني و ذهني نداشت و آرمان خواهي شان كه ريشه آرمان شهري داشت با آرمان شهر تطابق نكرد، لهذا كاملاً به بن بست مواجه گرديد و جامعه سياسي شان كه همان جامعه ملي است و با طرز فكر كمونيستي براي آن مي انديشيدند هرگز ساخته نشد.

حاكميت كه به توالي هايش آگاهي ندارد، مرز ميان شدني و نا شدني را نشناسد و آينده را در نظر نگيرد و به خواستهاي روشن و بر حق حكومت شوندگان و ضرورت زمان بي اعتنايي كند، بي خرد است و خواهي نخواهي از حاكميت جامعه كنار ميرود، زيرا فاقد توانايي اداره جامعه بوده و عاري از اوصاف رهبري همچون علميت ، عدالت ، تقوي، تدبر و متانت ميباشد، كه رژيم هاي حاكم گذشته جامعه ما ازاين نوع تيپ ها بوده است كه هيچ نوع تناسب و هماهنگي با جامعه افغاني نداشته و كنار رفتند، هر چند حلقات استعماري و استثماري و منفعت طلب تلاش دارند ايشان را دوباره زنده سازند و در بازي سياسي كمرا ما انداخته اند فعال شان سازند و از وجود شان بهره گيري نمايند، چون عاري از اوصاف اداره كننده اداره شوند معتقد هيچگاه مرجامعه افغاني كه داراي شكل گيري است تحميل نخواهند شد.

يكبار ديگر به اين نقطه پافشاري بايد نمود كه سياست سر آمد دانش ها و اداره جامعه سياسي دشوار ترين مسووليت ها است و كار سياسي بيش از هر فعاليت ديگر اجتماعي نياز به كار ورزي و كار آموزي مداوم دارد. دولتمردان و مسوولان اداره كشور ها كم تر در كتاب ها ، نظريه جهان بيني ها و بيش تر در عرصه سياست و تصميم گيري و عمل، اداره كردن جامعه سياسي را مي آموزند و از ميان چند يا چندين راه حل شدني يكي را برمي گزينند، ولي گزينش راه حل و دست يابي بر مشكلات درك حقايق جامعه با درنظرداشت شرايط عيني و ذهني آن است. در غير آن تنها تئوري نمي تواند جامعه را بطرف خير و فلاح رهنمون شده ارتقا دهد، آنچه در نظر شكل ميگيرد بايد جنبه عملي پيدا كرده و شامل زندگي شود. تطبيق آيه و سوره هاي قرآني و شامل شدن آن در زندگي است صدر اسلام بود كه از قرآن كريم هم زندگي سياسي شان و هم زندگي ... رقم يافت . اكنون كه تحريك طالبان در بخش اعظم خاك كشور با پيروي از صدر اسلام به رضا و رغبت مردم به اوضاع مسلط گرديده اند و مردم هم بدون اكراه با ايشان بيعت كرده اند اتخاذ و روش هاي اداره جامعه از سياست اسلامي مايه ميگيرد. متناسب به نياز خواسته هاي بر حق جامعه ما بوده است. هرچند دشمنان اسلام جاهلانه در پي دسيسه سازي باشند ايران هم تحت چتر اسلام بر آن در تسليح و تطميع گروهك هاي خليلي و ... لحظه فرو گذاشت نكرده اند.

مبرهن است كه پي ريزي طرح ها و برنامه هايي كه بر خلاف خواست و اراده مردم افغانستان در مرز هاي خارج از كشور صورت ميگيرد و در آن هيچگونه دلبستگي و تمايلات فكري و احساسات ملي افغانها دخيل نمي باشد ، هيچگاهي به نتايج دلخواه و قابل قبول براي ملت مجاهد افغانستان، منجر نخواهد شد، ملت مؤمن و خدا پرست افغانستان طي دو دهه جنگ و خونريزي به خوبي شاهد اين واقعيت بوده كه طرح ها و برنامه هاي سازمان ملل ويا كشورهاي همچون ايران دررابطه حل قضاياي جاري در افغانستان جز اينكه افزايش تشنج و بحراني شدن اوضاع را دامن زده و مصايب بيشتري رابربدبختي ها نابرابري هاي جامعه ومردم افزوده است ميباشد ديگري را در قبال نداشته است.

نشست اعضاي مجمع تحت نام علماي افغانستان كه اخيراً از سوي سران رژيم ايران بمراه انداخته شده بود و در قطعنامه آن جملات متضاد و نقيض و غير واقعبينانه ي عليه امارت اسلامي افغانستان عنوان كرده كه گويا تحريك اسلامي طالبان منحيث حركت سازمان يافته بر اساس طرح دشمن بوجود آمده است يكبار ديگر دشمني و ضديت آشكار رژيم ايران را با مردم افغانستان در اذهان تداعي مينمايد، زيرا سران رژيم بدون در نظر داشت واقعيت هاي موجود جامعه افغاني در تداوم اظهارات غير واقعبينانه موضعگيري هاي خصمانه خويش عليه مردم امارت اسلامي افغانستان تائيد ميورزد، بدون اينكه بدانند كه علماي ديني ما كه تحريك اسلامي طالبان را بوجود آورده است منحيث رهنما و رهبران جامعه افغاني يك عمر مشكلاتي كه حل آن نا ممكن و محتمل به نظر ميرسيد، راه حل يافته و عملاً ثابت ساخته اند كه توانايي فايق آمدن بمشكلات را دارند.

عراق د انساني مدنیت زانګو، د استکبار د دسیسو قرباني



د نیشنل جیوګرافیك او نیوزویك څخه
ترجمه او تصرف : پوهنمل داکتر صالحه «نبي زاده»

لوي طوفان پورته انګو لا کوي ...
د طوفان په مخکښي اورلګیږي
خلك زګیروي کړي ...
د هغه په لویو واټونو کې چې ،
جشنونه لمانځل کیدل،
په زوهاو خلك خواره واره پراته دي ...
آه ... څما په ښار، او آه ... څما په کور ...

آیا دا به د شلمي پیړۍ بغداد د عراق تاریخي پایتخت په ؟ کله وي ؟ نه . دا یوه مرثیه ده چې د اور یا حضرت ابراهیم «ع» د زیږیدو د ټاټوبي د ویجاړۍ په هکله چې د دجلي او د فرات سیندونو په منځ کي د هغه په شمالي آخرني برخه کي موقعیت لري ویل شویدي چې اوس د فارس د خلیج په نامه یادیږي چې دا سانحه څلور زره کاله مخکي د مدنیت په څلانده سهار کي رامنځ ته شوه .

بین النهرین یعني د ددوسیندونو تر منځ ځمکه چې د عصري عراق زره جوړوي دنیا ته یې لیك دود، عرابه یا څرخ، شپیته دقیقه ایز ساعت او د قوانینو اصول ورکړل .

د عراق تاریخي تقویم :

د میلاد څخه ۶۰۰۰ کاله مخکي د شمالي سیمو شپانه او کروند ګردد جلي او فرات د خارو په کلو او باڼو کي خواره شول . د اهلي څارویو څارل، د حیواناتو او دانو کرل او دځمکي خړوبول منځ ته راغلل چې اوبیدي کلتور د قبل التاریخي کرني بنسټ یې پرېښود. د میلاد څخه ۳۵۰۰ کاله مخکي د اوبو لګولو سیستم د خوراکي محصولاتو د زیاتوالي لامل وګرځید .

تر څو چې د نړۍ تر ټولو رومبي ښارونه بنسټ کړي، ددي ځای میشته خلك یعني سومریانو لیك دود یا خط یې اختراع کړ چې د تمدن اساسي ستنه تشکیلوي .

قدرتمند مذهبي کاهنان منځ ته راغلل چې د هغوی عبادت ځایونه په هر ښار کې برلاسي درلود . د میلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکي : پدي وخت کي نوي قدرتمند لاریښوونکي یعني لومړني پاچهان منځ ته راغلل او ښارونه په ایالتي ښارونو بدل شول.

د میلاد څخه ۲۳۰۰ کاله مخکي : اکادیان چې په غشو او تورو مسلح وو د خپل پاچا سارګون په مشرۍ یې سومریان خپل مطیع کړل چې دبین النهرین لومړنی امپراتوري یې منځ ته راوړله .

ورووسته بیا سومریان برلاسي شول او دا منطقه په کوچنیو پاچاهیو بدله شوه چې لمر ختیځ او لمر لویدیځ یلوته یې د تهاجم زمینه برابره شوه .

د میلاد څخه ۱۷۹۲ کاله مخکي تر ۱۵۹۵ مخکي له میلاد څخه : بابلیانو د هامورابي تر مشرۍ لاندې د پاچهي پر تخت قبضه وکړه او هامورابي د بابل هغه امپراتور ؤ چې د ځان څخه یې مخصوص قوانین رامنځته کړل چې یو له هغوي څخه د سترګې په مقابل کي د سترګې قانون ذکر کولاي شو تجارت، ستوري پیژندنه او هنر خپل اوج ته ورسید تر څو چې قدرت هیتیانو ته ورسید .

د ۱۵۹۵ ق م څخه تر ۱۱۵۷ مخکي له میلاد څخه : کاسیا نو چې د زاګروس د غرونو قبایل ؤ د بین النهرین د سویلي برخي کنترول تر لاسه کړ او په شمالي برخوکي اسوریانو قدرت ومونډ .

د ۸۸۳م څخه تر ۶۱۲ مخکي له میلاد څخه : مدیانو هسکاتیانو او کلدانیانو اسوریان وشړل او یو نوي بابلي امپراطوري منځ ته راغي نبیوکادنیزار بابل ته نوي ویاړونه ورو باسل . او اسرائیلیان یې اسیر کړل .

د ۵۳۹ قم څخه تر ۶۳۷ ورووسته له میلاد څخه : په کال ۵۳۹ قم کي فارسیانو بابل ونیو او پولس پیړۍ دا منطقه د خارجي ځواکونو له خوا اداره کیده . ورووسته له دي چې مقدوني اسکندر دا هیواد ونیوه (اسکندر په بابل کې په ۳۲۳ق م کي مړ شو)(بین النهرین د ۳۵۰ کالو په موده کي د پارسانو او ورووسته د ساسانیانو تر ولکي لاندي راغي .

په ۶۳۷ ورووسته له میلاد څخه او پنځه کاله ورووسته د حضرت محمد «ص» د رحلت څخه عربانو د ساسانیانو پایتخت ستیزفون په نیولو سره د بین النهرین کنترول یې تر لاسه کړ او د اسلام سپیڅلي دین حاکم شو .

په کال ۶۸۰ ورووسته له میلاد څخه یعني د هجري شمسي په ۵۹ کال د حضرت محمد «ص» لمسي حضرت حسین «رض» د کربلا په دښته کې په شهادت ورسید . ځکه چې هغه داموبانو مخالف ؤ .

د ۷۵۰ میلادي تر ۱۲۵۸ میلادي کاله پوري : عباسي خلفاؤ بغداد د خپل پایتخت په توګه تاسیس کړ چې د اسلام د طلایي عصر ځراغ په هنر او ساینس کي بلل کیده په داسي حال کي چې اروپا په دي وخت کي خپل د جهالت تیاره عصر تیراوه دلته د اسلامي تمدن بلي ډیوي د نړۍ څلورو خواو ته خپرېږي .

۱۲۵۸ میلادي کال : مغولانو د بغداد ښار چې هغه وخت اته لکه خلك په کښي استوګن ؤ وران کړل او د عباسیانو حکومت یې پاي ته ورساوه . ورووسته بیا مغولان په اسلامي کلتور کي جذب او تحلیل شول .

د ۱۵۳٤ تر ۱۹۳۲ میلادي کالو پوري : لوي سلیمان عثماني خلیفه بغداد ته ورننوت او د څلورم منځ

دستور حضرت امیر المؤمنین به یکي از والیانش

دستور حضرت امیر المؤمنین علي بن ابي طالب به یکي از والیانش

از حال دهقانان و خراج دهنده گان همیش باخبر باش و در اصلاح کارشان بکوش. نظرت همواره متوجه عمران(آبادي) باشد نه جلب خراج که خراج و افزایش بیت المال جز با عمران و خوبي کشاورزي میسر نیست.

اگر بر اثر کم آبي ، آفت یا (خراب شدن) تخم و عوامل دیگر به کمك نیازمند باشند از بیت المال به آنها بده.

د روغتیا او سپورت

داختصاصي صفحي د خپریدو انگیزه

ډیر د شکر او خوښي ځاي دي چي لوي خداي«ج» موږ ته دا توفیق او ویاړ راپه برخه کړ تر څو د شریعت په اوونیزه کي د روغتیا او سپورت په هکله ځانگړي صفحه پرانیزو.

دا چي د کائناتو حکیم خالق انسان ته د اشرف المخلوقات مقام ورکړي او بیایي تر ټولو ژوندیو ښایسته او هوښیار هست کړي دي نو ښایي چي ددي قدرمن موجود پالنه، تقویه او ساتنه په هغه انداز وشي په کوم چي لوي خداي«ج» ورته پیرزو کړیده.

روغتیا یو ستر او بي ساري الهي نعمت دي . لوي خداي«ج» هغه چاته چي د یوه انسان د ژوند د بقا او د روغتیا د پایښت په لار کي هڅي کوي د ټړي ټولو انسانانو ته د ژوندون بخښونکي صفت ورکړیدي همدارنگه د اسلام ستر پیغمبر «ص» هم د علم په هکله د څرگندونو په ترڅ کي د دیني علومو تر څنگ د ابدانو علم څخه چي همدا د انساني ژوند او روغتیا په هکله د پوهي د حاصلولو علم دي یادونه کړیده سپورت چي د انسان د فزیکي پیاوړتیا او تندرستي سبب گرځي د روغتیا د پایښت،جسماني ښکلا او له ځینو ناروغیو څخه د ژغورني ښه لاره او وسیله گڼل کیږي .

د پورتینو لاملونو له کبله د شریعت اوونیزي اداري پریکړه وکړه تر څو خپلو مسلمانو هیوادوالو ته د روغتیا د اهمیت، د عامه روغتیایي ستونزو د معرفي او د هغو د وقایي او علاج د آسانه لارو چارو د وړپیژندلو، د روغتیا د ساتني او تقویي په برخه کي د سپورت د اهمیت د تشریح کولو او په پاي کي له کورنیو او بهرنیو سپورتي پیښو او د سپورتي لوبو له تاریخچي او څرنگوالي څخه د خبرولو په منظور د روغتیا او سپورت تر عنوان لاندي خاصه صفحه پرانیزي هیله من یو چي ددي مطالبو په نشر سره به زموږ خپرونه د هر راز گټو درلودونکي بڼ ځیره غوره او د هر ذوق او ډلي علمي تنده به ماته کړي په دي لاره کي د لوي الله«ج» توفیق او د قدرمنو پوهانو علمي مرستي به زموږ د مخي رڼا وي .

صحت او سپورت

متصدي صفحه : محمد نذیر «احمدزي» محصل صنف پنجم انستیتوت طب کابل

د سپورت لنډه تاریخچه

کوم پخواني مدارک چي د سپورت په هکله موږ ته خبر راکوي هغه مجسمي او نقاشي آثار دي چي له ډیرو پخوا زما نو څخه پاتي دي هغه مهال سپورت له گډا او جگړي سره یو ځاي مبودل شوي دي او دا څرگندوي چي څرنگه پخوانیو انسانانو د ښکار په وخت کي ډله ایزي لوبي په لاره اچولي او خوښي او نڅایي کوله مدارک دا ښیي چي په زرها و کلو تر میلاده مخکي آریاپانو، هندوانو، چینایانو او مصریانو ډله ایزي لوبي کولي وروسته یونانیانو او رومیانو سپورت ته ډیر اهمیت ورکړ د نننیو المپیك لوبو مخترعین هم یونانیان دي . (همر) یوناني شاعر په «اهلیاد» او «ادیسه» نومي کتابونو کي له بوکس، غیږي نیولو او گادي ځغلولو څخه یادونه کړیده رومیانو په جگړه کي د بري په خاطر سپورت مهم باله په وسطي پیړیو کي لوبو په اروپا کي ترقي وموند له توری وهل او آس ځغلول په سپورت کي اضافه شول په ۱٦ پیړي کي د فتبال لوبه انگریزانو منځته راوړه د المپیك لوبي په رسمي شکل په ۷۷٦ ق م کي سرته ورسیدلي د نننی د المپیك لوبو طراح «بارون پیردوکوبرتن» په نوم شخص دي چي د هغه د طرحي سره سم په ۱۸۹٦ کال کي لمړي ځل د المپیك لوبي په آتن کي پیل او تر نن ورځي پوري دوام لري .

آیا گلو دردي در اطفال یك مریضي عادي است؟

گلو دردي اکثراً با التهاب گلو و لوزه تان (تانسل ها) مترافق بوده یکي از امراض معمول دوره طفولیت متوسط و دوران مکتب در اطفال مي باشد عامل عمده این التهابات بکتري نوع ستریپتو کوکسي بیتاهیمولایتیك گروپ A مي باشد که در ۹۰٪ واقعات انتان مذکور در مواد مرضي گرفته شده از ناحیه مرضي تثبیت گردیده است .

اکثراً در نزد عوام مروج است که چنین مریضان را نزد زنان کهن سال برده و عملیه گلو بالا کردن را منحیث اصل تداوي این مرض مي پندارند حتي فامیل هاي که از علوم مروجه نیز برخوردار اند با گرفتن خود سرانه دو یا چند تابلیت چوشیدني به اصطلاح تداوي میکنند براي اینکه در مورد انجام این مرض عاقبت برخورد غیر علمي مردم خود دربرابر مرض مذکور به مردم خود معلومات کافي داده باشیم لازم است تا سیر مرض را مختصراً تشریح نمائیم .

متعاقبت التهاب گلو بواسطه بکتري نوع ستریپتو کوك بیتاهیمولایتیك گروپ A سیستم معافیتي انسان غرض مقابله با انتان مذکور و قلع و قمع آن ، به فعالیت آغاز نموده و در ظرف یك هفته و یا بیشتر از آن انتي بادي ضد میکروب مذکور را تولید و بکتري مذکور را بواسطه آن از بین مي برد اما در ضمن انتي بادي تهیه شده بر ضد ستریپتوکوکسي قابلیت اتصال و عملکرد بالاي انساج منضم عضویت و مخصوصاً بالاي عضله قلب را داشته که در نتیجه همانطوریکه این انتي بادي میکروب را از بین مي برد عضله قلبي خصوصاً وال هاي قلبي را نیز تخریب نموده و بالاخره سبب بروز مرض روماتیزم قلبي و در نتیجه آفات دسام هاي قلبي خصوصاً آفات دسام مټرال نزد دختران و ابهر نزد پسران میگردد .

دلایل ذیل ثابت میکند که گلو دردي بواسطه ستریپتوکوك موصوف باعث تب روماتیزم و امراض روماتیك قلبي میگردد .

۱- در ۵۰٪ واقعات روماتیزم تاریخچه گلودردي موجود است .

۲- مصابیت دسته جمعي مردم یك منطقه توسط روماتیزم و گلودردي در عین زمان واقع شده است .

۳- وقوعات تب روماتیزم و گلو دردي ناشي از ستریپتوکوك فوق از نظر موسمي مشابه اند .

٤- مرض حاد یا شدید قلبي به شکل تب روماتیزم متعاقب گلو دردي بواسطه میکروب فوق الذکر ظاهر گردیده است .

۵- تطبیق پنسلین به شکل وقایوي از تکرار حملات مرض مذکور جلوگیري میکند از اینکه گلو دردي که نزد اکثر مردم یك مریضي عادي پنداشته میشود اختلاطات خطرناکي چون مرض تب روماتیزم و روماتیزم قلبي و بالاخره تخریب وال هاي قلبي و در نتیجه مشکلات خطرناك حیاتي را در قبال دارد بار مي آورد بناءً لازم است تا همه والدین و مسولین فامیل ها از هوشیاري کامل علمي کار گرفته با ملاحظه واقعه گلو دردي نزد اطفال، هر چه زودتر اطفال شانرا به شفاخانه و یا نزد داکتر معالج انتقال و بشکل اساسي آنها را تداوي کنند و بدین صورت اطفال شانرا از عواقب خطرناك گلو دردي که عبارت از تخریب وال هاي قلبي، مرض تب روماتیزم و بعضاً التهاب شدید نسج وظیفوي گرده ها است نجات بخشند.

نقش و اهمیت کلپ هاي آزاد ورزشي در جامعه

مصاحبه کننده : مهربان

خوانندگان محترم! خبرنگار سپورتي هفته نامه شریعت در رابطه به نقش و اهمیت کلپ هاي آزاد ورزشي مصاحبه اي را با محترم یوسف «عظیمي» استاد یکي از کلپ هاي آزاد تیکواندو شهر کابل انجام داده است که شما عزیزان را به خوانش آن فرا میخوانیم :

محترم «عظیمي» که با داشتن ۲۰ سال عمر و ۱۰ سال سابقه ورزشي در رشته تیکواندو مفتخر به کمر بند سیاه «دان ۲» بوده و روزانه بیشتر از ٦۰ نفر شاگرد را در همین رشته در کلپ شخصي خویش واقع مدرسه عایشه دراني تمرین میدهد؛ نقش کلپ هاي آزاد ورزشي را در جامعه چنین بازتاب داد : فعالیت کلپ هاي جوان و آزاد ورزشي در جامعه از اهمیت خاص برخوردار میباشد. چرا که همین کلپ هاي جوان و آزاد افروز هستند که سازنده فرداي روشن جامعه میگردند .

وي افزود: هم اکنون حدود ۸۰-۹۰ کلپ آزاد ورزشي در رشته هاي مختلف در چوکات کمیته ملي المپیك در سطح شهر کابل فعالیت دارد که حدود ۵۰ کلپ آن مختص به رشته تیکواندو میباشد.

محترم عظیمي در رابطه به اخذ و تعویض کمربند در رشته تیکواندو اظهار داشت : ورزش تیکواندو داراي ۷ کمر بند به تسلسل آتي : کمر بند سفید، زرد، سبز، آبي، سرخ ، نصواري و سیاه بوده که هر کمر بند بعد از سپري شدن یك دوره خاص به ورزشکار سپرده میشود. بدست آوردن کمر بند سیاه آرزوي هر تیکواندو باز میباشد، اما بدست آوردن این کمر بند حد اقل ۸ تا ۱۰ سال زحمت بکار دارد. وي اضافه داشت : اساساً کمر بند سیاه داراي ۱۰ دان (درجه) میباشد که بدست آوردن هر دان (درجه) آن حد اقل ۲-۳ سال وقت و پویایي بکار دارد ، خوشبختانه امروز در وطن ما تقریباً ٦۰ ورزشکار در همین رشته داراي کمر بند سیاه مفتخر به دان (درجه) هاي مختلف میباشد.

محترم عظیمي در قسمت دیگر از رشته صحبتش شان افزودند : هر رشته از وورزش امتیاز و سودمندي خاص خود را دارد ؛ اما در ارتباط به ورزش تیکواندو باید گفت که ثبات و پایداري در این رشته؟ورزشکار گذشته از اینکه صحت و سلامتي بدن میبخشد. او را همیشه متحرك، چست و چالاك و نیرومند نگاه میدارد

وقتي از وي پرسیده شد که برتري و خارق العادگي یك تیکواندو باز پویا به تناسب یك انسان عادي در چیست ؟ موصوف چنین تذکر داد : برتري و خارق العادگي یك تیکواندو باز پویا و موفق در بدن سازي خود ، مقاومت بدن، شکستاندن اشیا مقاوم با ضربات پا و دست ومبارزه‌نمودن‌وي‌درآن‌واحدبا ۱۰ نفرمیباشد.

در اخیر محترم« عظیمي» ضمن اینکه اوصاف خوب یك ورزشکار را اخلاق نیك و ستوده، عاجزي و شکستگي و عدم تکبرو و غروریت تلقي نمود؛ وي به نمایندگي از ورزشکاران جوان شهر کابل از کمیته ملي المپیك اظهار سپاس و امتنان نمود که آن کمیته امروز زمینه، خوب ورزش را براي جوانان کشور بهتر از هر وقت دیگردرچوکات‌شریعت‌اسلامي‌مساعدساخته‌است.

ریزش یا زکام

این مرض که در انگلیسي بنام Common Cold و در اصطلاح طب بنام Primary acut Rhinitis یاد میگردد عبارت از التهاب ویروسي غشایي مخاطي بیني است زیاد تر نزد آنهائیکه به هواي سرد مواجه و خستگي فزیکي و عصبي دوامدار دامنگیر شان باشد بوقوع میرسد . پائین بودن مقاومت عضویت از سبب امراض و یا سؤ تغذي، کار هاي نشسته و غیر متحرك، نه گرفتن غذا هاي شحمي و استفاده زیاد از غذا هاي غني از کاربوهایدریت زمینه را براي حمله ویروس عامل مرض مهیا میسازد . مرض نزد جوانان کم سن ، اطفال و اشخاصیکه به امراض بیني مثل انحراف پرده بیني و پولیپ هاي بیني مصاب باشند زیاد تر بملاحظه میرسد . مریضان مصاب به ریزش از تب سردردي و کسالت شکایت داشته، تخریش حفرات بیني، عطسه هاي متداوم و تکلیف دهنده، بندش بیني و جاري شدن افرازات از بیني اعراض موضعي مرض را تشکیل میدهد .

همچو مریضان باید استراحت نموده اطاق و بستر شان گرم باشد. حمام گرم مفید بوده استفاده از غذا هاي مقوي و مرکب از مواد ضروریه نوشیدن مقادیر فراوان چاي، آب گرم یخني گرم و اب برنج باعث شفایابي سریع مریض میگردد همچنان انشاق بخارات آب جوش یا چاي و گرفتن تابلیت هاي پاراسیتامول باعث تسکین مریض میشود با اهتمامات فوق مریض در ظرف چند روز محدود خود به خود شفایاب خواهد شد و نیازي به ادویه هاي بیشتر ندارد. هرگاه تب مریضان شدید و عوض افرازات آبگین از بیني مریضان افرازات چرکین سیلان نماید مریض را غرض معالجه به دکتور معالج انتقال دهید. اگر مریضان مصاب زکام خوب مراقبت نگردند امکان دارد که اختلاطاتي از قبیل التهاب شدید و طولاني گوش متوسط، التهاب Sinus (خالیگاه هاي هوایي موجود در استخوان هاي وجه و راس) را سبب گردیده و حتي سبب التهاب شزن ، قصبات و سینه بغل گردد . این مریضان باید هنگام روبرو شدن با دیگران یا سکونت در اطاق هاي دسته جمعي و اجتماعات مثل صنف درسي، مسجد،شفاخانه، موتر و غیره جاها از دستمال بیني خصوصاً هنگام عطسه زدن استفاده کرده در مقابل اشخاص دیگر از عطسه زدن خود داري کنند. کوشش شود تا از تماس زیاد با مریض جلوگیري گردد خصوصاً اطفال را هیچگاه اجازه ندهید تا با همچو مریض در تماس نزدیك باشند.

د انسان پر صحت او شخصیت باندي د شرابو ناوړه اغیزي

شراب یا ایتایل الکول له ډیرو پخوانیو زمانو څخه پیژندل شوي او څښل یې د خلکو تر منځ مروج ؤ د هندي علمي راپورونو په حواله تقریباً ۲۰۰۰ کاله مخکي له میلاد څخه هم د شرابو شتنه والي تائید شوي دي . د اسلام مقدس دین چي د شرابو د تحریم له حکمت څخه‌وکڼه کوم حکم صادر کړیدي هغه د نن ورځي ساینسي او طبي علوم هم په کلکه تائیدوي او د نړي هره هوښیاره ټولنه کوښښ کوي تر څو خپل ولس له دي لعنت څخه وژغوري .

پروفیسور کیمپ د شرابو ناوړه اغیزي په لاندي ډول بیانوي :

۱- د شرابو په نشه کي انسان ځان د هیڅ راز اصولو پابندنه بولي تند خویي ورته پیدا او کیداي شي چي په خپل چاپیریال کي څوك چي لاس ته ورشي هغه ووژني .

۲- نیشه سړي ته د نورو حیثیت او شخصیت هیڅ اهمیت نلري ښکنځل او د اجتماعي آدابو خلاف خبري یې له خولي راوځي او هر چاته بدرد وایي .

۳- د نشي په حالت کي انسان خپل اعمال نشي کنترولولاي جنسي غریزه یې د لنډي مودي لپاره طغیاني کیږي کیدي شي چي حتي د خپلي کورني پرغړو او محرماتو باندي هم جنسي تجاوز وکړي خو د وخت په تیریدو سره یې دغه غریزه انحطاطي کیږي .

٤ - د موتر ، موتر سایکل او نورو نقلیه وسیلو په چلولو سره مست سړي د خطرناکو ټکرونو سبب گرځي چي پر خپل ځان سربیره د ډیرو خلکو ژوند ته خطر پیښوي په نړي کي دغه واقعات ډیر زیات دي .

۵- همدا راز شرابي سړي غلا، قمار او د نورو ناوړه اعمالو سرته رسولو ته ځان مجبور وېني، د هغه شخصیت محو شوي وي په هوټلونو ، بازارونو او کورکي یې هوښه پروت وي رنگارنگ چیغي او رمباړي وهي .

٦- په ټولنیزو چارو کي د شرابخور شخص حیثیت ختمیږي او هیڅوك په هیڅ راز عزت او حیثیت نه ورته قائلیږي .

۷- د کار کولو توان او د خپلي کورني غوښتنو ته د ځواب ویلو قابلیت په شرابي سړي کي ورځ په ورځ کمیږي چي په اقتصادي لحاظ زیات تاوانونه خپلي کورني ته اړوي .

د پورتنیو ناوړو اغیزو تر څنگ چي شراب یې په اجتماعي او شخصي لحاظ پر انسان واردوي په طبي او روغتیایي لحاظ هم شرابخور په زیاتو مصیبتونو اخته کیږي چي په لنډ ډول یې نوم اخلو .

۱- د شرابو روحي او عقلي تاثیرات تر هر څه دمخه ښکاره کیږي د شخص ټولنیزه رویه تغیر کوي او د لیونتوب په لور درومي .

۲- د شرابو جسمي تأثیرات ډیر خطرناکه دي چي هره گړي د شخص د مرگ سبب گرځیدي شي . د ځیگر (ینې) سخت پاړسوب وریسي د ځیگر سیروز چي یوه کم علاجه ناروغي ده د ځیگر او پانقراص سرطانونه د معدي او کولمو ناروغي خصوصاً د هغو زخمونه، د پانقراس، زړه،پښتورگو، مرکزي عصبي سیستم خصوصاً د نباتي عصبي سیستم سختي ستونزي شرابخور ته ښه راغلاست وایي .

۳- په ارثي لحاظ کوم ماشومان چي له شرابي والدینو څخه دنیا ته راځي د موروپلار ددغه عمل ناوړه اغیزي په هغوي کي ښکاره وي دا ماشومان روحاً او عقلاً تر خپلو همزولو وروسته پاتي او اکثراً نالایقه ، غبي او احمقانه اوصاف لري .

٤- د شرابو زهرجن کیدل : د شرابو له زیاتو څښلو څخه شدید تسمم منځته راځي چي د ځاي پر ځاي مرگ سبب گرځي د ٤۰۰ سي سي خالص شرابو په څکلو سره کوما او مرگ واقع کیږي ۳۰۰ سي سي شراب انسان بې هوښه کوي او ۲۰۰ سیسي یې د نشي حالت منځته راوړي .

د شرابو د روغتیایي ناوړه اغیزو په هکله په تفصیل سره خبري او لیکنه په سلهاو پاڼو توررولاي شي موږ دلته د اخبار د ظرفیت او د عامو خلکو د اساسي معلوماتو په خاطر د موضوع په هکله ضروري یادوني وکړي هیله من یو چي د ایمان او پوهي په رڼا کي ددغه لعنت خلاف او د معتادو کسانو د ژغورلو په اړه به خپلي هڅي ونه سپموي .

موافقتنامه همکاري هاي سپورتي بین فدراسیون فتبال افغاني و مقامات ورزشي پاکستان به امضأ رسید

محترم حافظ احمد جان رئیس فدراسیون فتبال کمیته ملي المپیك امارت اسلامي افغانستان اخیراً طي یك مسافرت دوستانه به پاکستان با مسوولین سپورتي آن کشور ملاقات نموده و در مورد همکاري هاي سپورتي بین دو کشور موافقتنامه اي را به امضاً رسانیده اند .

محترم حافظ احمد جان ضمن جواب به پرسش یکتن از خبرنگاران بعد از ملاقات شان با طرف پاکستاني اظهار داشتند : به اساس این موافقه ورزشکاران افغاني غرض‌انجام‌مسابقات‌به‌پاکستان دعوت خواهندشدودرمقابل‌ورزشکاران‌پاکستاني‌نیزدر بازي‌هاي‌ورزشي‌کشورمااشتراک‌خواهندورزید.

څوارلس ورځي وروسته نوي نړیوال ریکارد

په گینیا کي د ۵۰۰۰ مترو ځغاستي اتل « دنیل کومین» په ۳۰۰۰ متره ځغاسته کي هم نوي عالمي ریکارد ټینگ کړ . کومین چي ۲۱ کاله عمر لري دغه مسافه یې په اوه دقیقو او ۲٤،۹ ثانیو کي وهلي دینل کومین فقط څوارلس ورځي وروسته د ایتوپي یوه اوسیدونکي لوبغاړي ریکارد مات کړ او دغه ویاړ یې تر لاسه کړ . د ایتوپي لوبغاري ۱٤ ورځي دمخه په ځغاسته کي نړیوال ریکارد دروولي ؤ کومین ته ددي بریالیتوب په بدل کي ۱۵ زره دالره جایزه ورکړ شویده .

مسابقات کرکټ در ولایت کنړ پایان یافت

به اساس اخبار رسیده از ولایت کنر اخیراً تورنمنت کرکت که بین دوازده تیم در ولسوالي سانوکي ولایت کنر دایر گردیده بود پایان یافت .

در نتیجه این مسابقات تیم «باز» به مقام قهرماني دست یافته و کپ قهرماني را تصاحب نمود. قرار است که مسابقات قهرماني والیبال نیز عنقریب در آن ولایت آغاز گردد .

د نیوزیلینډ په مقابل کي مسلسلي لوبي مونږ ستړي کړي

د آسټرالیا د کرکټ تیم مرستیال د هند په نیمه وچه کي کیدونکو د کرکټ د لوبو په پروگرام باندي اعتراض کړیدي او ویلي دي چي په دي لوبوکي له نیوزیلنډ سره د هغه د هیواد مخامخ کیدل د دوي د ستړتیا سبب گرځي دا ځکه چي هغوي اخو میاشتي مسلسل د نیوزیلنډي لوبغاړو په مقابل کي دریدلي او لوبه یې کړي د نیوزیلنډ په مقابل کي د ۱۰-۱۱ ځله لوبي بیا تکرار هغوي ته خوښي ښونکي نه دي .

د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر محترم...

داد کېږي دي او هم دا راته ووایاست چې ددغه کار لګښت څومره درکوي ؟

ځواب : دا چې د څرخي پله د صنعتي پارك د برېښنا تجهیزات د رباني د ائتلافي اداري په وخت کې د تنظیمونو د منځني جګړې له امله بیخي له منځه تللي و او له بل پلوه اوس ددې وخت رارسیدلې دې چې زموږ تجاران یا د نوموړې سیمې د فابریکو مالکان وکولای شي چې د خپلو هیواد والو د اړتیا وړ شیان بیا تولید کړي او له دغه پلوه موږ د بهرنیو تجارانو د مالونو څخه خلاص شو نو د ا ویتبیل شوه چې په لومړي قدم کې د څرخي پله صنعتي سیمي ته د برېښنا لینونه وغزول شي. ددغه سیمي د برېښنا د تجهیزاتو او فني پرسونل پیسې ټول د کانونو او صنایعو وزارت چې مجموعاً پنځه ملیارده او دوه سوه پنځوس میلونه افغاني کیږي په خپل ځان منلي دي او لله الحمد موږ ددې توان لرو چې د برېښنا د لینونو د غزولو او د تجهیزاتو د بیا برابرولو کارپه‌خپله‌زموږ‌مخلص‌او‌تکړه‌انجنیران‌وکړي.

پوښتنه : لطفاً ووایاست چې د څرخي پله صنعتي سیمه کې به څومره فابریکې له برېښنا څخه ګټه واخلي او څومره کارګران به په کې په کار بوخت شي او ستاسي دغه پروژه به په څو ورځوکې بشپړه شي ؟

ځواب : د څرخي پله په سیمه کې د راز راز تولیداتو نږدې سل فابریکې موجودې دي او زموږ پلان دادې چې د نوموړې سیمې د برېښنا له مرکزي استیشن څخه ټولو فابریکو ته برېښنا ورکړو او د کانونو او صنایعو وزارت د باورې منابعو له خولې ویلاي شم چې په دغه فابریکو کې به د برېښنا د جریان له امله زموږ پنځوس زره هیواد وال په کار لګیا شي او انشاء الله چې په راتلونکو دوه میاشتو کې به نوموړې صنعتي سیمه په بشپړ ډول د برېښنا له پلوه بیا شي .

پوښتنه:ستاسي‌د‌رواني‌پرچاوي‌د‌پلان‌څخه‌خلك‌شکایت لري‌ستاسي‌نظر‌پدې‌باب‌څه‌دي؟

ځواب : موږ په دې پوهیږو چې زموږ محترم ښاریان به په دغه باب شکایت لري، خو موږ په ټول توان سره هڅه کوو چې د خپل پرچاوي پلان سم عملي کړو تر څو ټول ښاریان له برېښنا نه ګټه واخلي، خو ځیني وخت موږ ته تخنیکي ستونزې را دمخه کیږي او له دغه درکه پرچاوي پلان په سمه توګه عملي نه شي، خو موږ بیا هم زیاته هڅه کوو چې تخنیکي ستونزې په خپل وخت له منځه یوسو او د برېښنا جریان مو د پلان سره سم وساتو او انشاء الله چې په راتلونکې کي به د نورو استیشنونو په فعالولو سره د پرچاوي ستونزه بیخي له منځه لاړه شي .

د کانونو او صنایعو سرپرست وزیر محترم الحاج مولوي احمد جان زموږ د خبریال پوښتنو ته داسې ځوابونه وویل :

پوښتنه : محترم حاجي صاحب لطفاً د کابل صنعتي پارك ته د برېښنا د جریان د تأمین په هکله معلومات راکړي ؟

ځواب : له نن نه یو میاشت وړاندې د کانونو او صنایعو او د اوبو او برېښنا د وزارتونو تر منځ داسې تړون شوی وو چې د کابل د خشبځ سب استیشن نه به د صنعتي پارك په لور یو لین غزیږي هغه کار د تیرې دوشنبې په ورځ د سلواغې د میاشتې په ۲۷ مه نیټه ددې دواړو وزارتونو لخوا رسماً افتتاح شو او په ګړندي کار پرې جریان لري چې ان شاء الله په دوه و میاشتو کې به دا کار بشپړ شي او تقریباً د ۵۰ زرو په شاوخوا کې خلکو ته به کار پیدا شي .

پوښتنه : محترم حاجي صاحب په دې پارك کې د جوړو او تخریب شویو فابریکو او د هغوي د وسایلو په اړه لتهمعلومات‌راکړي ؟

ځواب : په دې پارك کې درې دولتي فابریکې جوړې او دوه نورې هم د جوړیدو په حال کې دي او نورې فابریکې ځنې په سلو کې لس، ځنې دیرش ،ځنې پنځوس حتی ځنې په سلو کې سل خرابې دي چې په دې اړه موږ کوښښ کوو چې د کورنیو سوداګرو سره د پروتوکول له لارې دا فابریکې احیاً او بیا آبادې کړو له دې پرته له شلونه تر ۳۰ پورې د خلکو شخصي فابریکې ابادې او جوړې دي او برېښنا ته منتظرې دي چې د برېښنا د لینونو په ورغزیدلو سره به ان شاء الله په کار پیل وکړي .

پوښتنه : اوس څومره سوداګر او پانګوال په دې‌پارك‌کې‌پانګې‌اچولو‌ته‌چمتو‌شویدي؟

ځواب : تر اوسه ۱۵۰ تنو سوداګرو زموږ سره نومونه ثبت کړیدي او عریضې یې راکړیدي دوي وایي چې که زړې فابریکې په اسانه او کم لګښت جوړیږي نو هماغه به ترمیم او جوړې کړو او که نوې فابریکې اسانه ترمیم او جوړیږي نو نوې‌فابریکې‌بلسره‌جوړې کړو .

پوښتنه : ددې پارك په بیا احیا کې اسلامي امارت هم څه‌مالي‌لاس‌لري‌او که نه ؟

ځواب : ولې نه . عالیقدر امیر المؤمنین له ډیرو اقتصادي ستونزو سره سره بیا هم ددې پارك د احیا لپاره د دوه زرو میلونو (دوه ملیاردو) افغانیو مرسته کړیده .

پوښتنه : آیا په دې پارك کې د نویو فابریکو د جوړولو کار هم تر‌لاس‌لاندې‌دي؟

ځواب : لکه چې ما دمخه هم وویل موږ داسې پروګرام لرو چې که زړه فابریکه اسانه ترمیم او احیا کیږي نو هماغه ترمیمو او که نوې اسانه جوړیږي نو نوې فابریکې جوړوو . د نویو فابریکو د جوړولو لپاره ډیره هڅه هم لرو او ډیره ارزانه یې ورکوو همدا راز ټیکس او محصول هم له چا څخه نه غواړو او د افغانستان ټول مارکیټ یې هم په مخ خلاص دي او هره فابریکه چې له بهر څخه د یو جنس له تورید نه موږ ته غنا راکوي نو موږ د نوموړې جنس تورید بندوو همدا راز حکومت د برېښنا محصول ترې هم دومره کم غواړي چې د ګاونډیو هیوادونو د محصول په اټکول له نشت سره برابر دي نو ویلی شوچې‌د‌سوداګرود‌ګټې‌لپاره‌هراړ‌خیزه‌زمینه‌برابره‌ده.

پوښتنه:ددې‌کار‌د‌جریان‌سرپرستي‌د‌چا‌لخوا‌کیږي؟

ځواب: ددې کار د جریان سرپرستي د کانونو او صنایعو د وزارت د صنعتي پارك د ریاست لخوا کیږي .

د جاپاني مسلمانانو مرې...

سوځیدلو خیرونه تر لاسه کیږي . د پرې فیکچر د ښار د ایتزاین په سیمه چې یوه غرنۍ سیمه ده د سعودي حکومت پخوا د مسلمانانو د هدیرې په خاطر یوه ټوټه ځمکه اخیستې وه او د جاپان د مسلمانانو سازمان ته یې وربخښلې وه له نن څخه دیرش کاله مخکې د سعودي سفیر د دې ځمکې لیدلو ته تللی و په دې وخت کې ددې ښار ښاروال ډیره خوښي څرګنده کړه او زیات یې کړه چې زموږ ښار د ملګرو ملتو حیثیت خپل کړې دي او دا ښار د نړۍ د مختلفو قومونو د اوسیدو ځاې ګرځیدلی دي نوموړې ښاروال په دې وخت کې د بیلابیلو آسانتیاو اعلان هم وکړ او اوس هم په دې ځاې کې هر جاپاني او غیر جاپاني مسلمان د ښاروالۍ له پلوه د مړي د ښخیدو اجازه لري مګر د کوبي په ښار کې چې هلته هم د مسلمانانو دوهمه هدیره وه خپره داسې نه ده د کوبي په هدیره کې د نورو ښارو مسلمانان که جاپاني وي یا بهرني د خپلو مړو د ښخولو اجازه نه لري همدارنګه د کوبي د حکومت له پلوه چې د هدیرې لپاره کومه ځمکه په نښه شوې وه هغه هم اوس په ډکیدو ده او مسلمانان د نوې هدیرې لپاره د ځمکې پیریدلو ته چمتو دي مګر د حکومت له پلوه د هدیرې د جوړولو اجازه نه ورکول کیږي .

که عراق پر موږ حمله ...

اطمینان راکړې دي خو موږ د دوي په اطمینان باور نلرو. هغه زیاته کړه چې زه به د هیواد د دفاع لپاره ټول ضروري اقدامات وکړم له ماسره اتومي صلاحیت هم شته دي هغه وویل چې زما امید دي چې د اتوم بم د استعمال ضرورت به نه پیښیږي په همدې هکله اسرائیلي صدراعظم له خپلې کابینې سره مشورې پیل کړې دي . د امریکا غږ په حواله اسرائیلي منابعو ویلي دي چې عراق د روس او نورو ملکونو په ذریعه پیغام رالیږلې دي او موږ ته یې په دوهم وار اطمینان راکړیدي چې که د امریکا او عراق تر منځ جنګ پیل شي په اسرائیلو به هیڅ حملو نه کوي له بلې خوا د عراق خارجه وزارت د اسرائیلو دغه آوازې رد کړې دي او اعلان یې کړي دي چې عراق به هیڅ وخت هم صهیونیستي حکومت ته پیغام ونه لیږي .

د یوه بل خبر له مخې کویټ په عراق د پوځي برید لپاره په خپله خاوره کښې د امریکا و لښکرو ته اجازه ورکړې ده چې د جنګ لپاره ترینه ګټه ترینه واخلي . تیره ورځ امریکایي ماهرینو هغه ټانګونه چې په ۱۹۹۱ کال د خلیج په جنګ کښې د عراق پر ضد استعمال شوي و په کویټ کښې معاینه کړل او په څو ورځو کښې به ۴۰۰۰ نور امریکایي عسکر کویټ ته ورسیږي او په عراق حمله کوونکي لښکر ته به ور ګډ شي . د سي این این په حواله روس او امریکا د عراق پر خلاف د حملي کولو پر مسئله له یو بل سره سخت مخالف شوي دي .

حکم تحقیقات در مورد...

در خبر گفته شده است که افسران بلند رتبه پاکستان قبلاً نیز چندین بار در این مورد خواستار معلومات گردیده بودند اما از طرف کمشنري افغان به خواست آنها کدام اعتناي صورت نگرفته است . هنگامیکه کمیسیون محاسبه عامه از وزارت امور سرحدي پاکستان در مورد وضاحت خواست آنها در جواب گفتند کهصدراعظم‌وقت‌منظوري‌این‌مصارف‌را‌داده‌است. رئیس کمیسیون‌میگوید‌که‌اگر‌حقیقتاً‌صدراعظم‌وقت‌منظوري این‌مبلغ‌را‌داده‌باشد‌واین‌حکم‌صدراعظم، مخالف‌قانون اقتصادي‌مروج‌باشد‌این‌کمیسیون‌بر‌ضد‌صدراعظم‌وقت‌از ستره‌محکمه‌خواهان‌تحقیقات‌جدي‌خواهد شد .

د بهرنیو چارو د وزارت ...

محترم حقاني د تیرې پنجشنبې په ورځ په داسې حال کې چې د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر محترم ملا امیر خان «متقي» ، ددې وزارت کلتوري معین او د شریعت اوونیزې مسؤول مدیر محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد«هوتك» او د بهرنیو چارو د وزارت لوړ رتبه مسؤولین او منسوبین حاضر ؤ ددې وزارت منسوبینو ته وروپیژندل شو .

په غونډه کې د قرانکریم د څو مبارکو آیتونو له تلاوت وروسته د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر محترم ملا امیر خان «متقي» لومړې د محترم حقاني نیك شخصیت ، پوهه ، علمیت او استعداد وستایه او د لوی خداي«ج» په دربار کې یې محترم حقاني ته په دې نوې مسوولیت کې د توفیق دعا وکړه. وروسته یې د نړیوال سیاست او د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنۍ پالیسي په اړه د نویو انکشافاتو څرګندونه وکړه او د نړیوال استکبار دوه مخي چلند او تضادونو په اړه یې مفصل معلومات ورکړل. وروسته محترم مولوي سید محمد حقاني لنډه وینا وکړه او د بهرنیو چارو د وزارت کارکوونکو ته یې خپلو مسوولیتونو او وجائبو ور په ګوته کړل .

څرنګه چې محترم حقاني د مطبوعاتو په ډګر یو سابقه او پخواني کارکوونکي او په قندهار کې د شریعت اوونیزې نږدې همکار وو نو د شریعت اوونیزې اداره ورته په نوې دنده کې د ټاکنې مبارکي وایي او د لوي خداي«ج» له دربار نه ورته لا توفیق غواړي .

د صنعتي پارکونو ...

محترم سرپرست ددغې پروژې د برېښنا د مزو د غزولو د کار د پرانستلو په مراسمو کې د هغو تولیدي فابریکو او تاسیساتو د بیا جوړونې په مقصد چې د تیر رژیم د جګړو له امله ویجار شویدي د افغانستان د اسلامي امارت د اقداماتو په باره کې په تفصیل سره خبرې وکړې او د صنعتي پارکونو د تولیدي فابریکو خاوندانو ته د زیاتو اسانتیاوو د برابرولو په خاطر یې د افغانستان د اسلامي امارت د لازیاتې پاملرنې ډاډ ورکړ .

قهرمانی های ملت مجاهد ...

محترم قاضي محمد حسن «حقیار»، محترم ګوهري و محترم صدیق الله بدر اشعار شان را در رابطه به رشادت و حماسه آفریني ملت مجاهد افغان، شکست ذلت بار کمونیزم جهاني و ارتش وحشي شوروي سابق به خوانش گرفتند . محفل با دعائیه محو کامل بقایاي کمونیزم و غیره نوکران اجانب و استحکام حاکمیت الهي در سرتاسر کشور پایان یافت .

حکمتیار د رباني په خیالي...

راشي او د دوي په حکومت کې د عظمی صدارت منصب اشغال کړي .

په خبر کې ویل شویدي چې د متحدې جبهې دې مشرانو په دې خبره ډیر تاکید کړیدي او رباني تهران ته په خپلې اوسني دورې کې له حکمتیار نه وغوښتل چې مزار ته راشي او دا دنده اشغال کړي خو حکمتیار دا وړاندیز نه دي منلي او دا ډول حکومتونه یې د بحران د لا اوږدیدلو لامل بللي دي.

یادونه

بنایي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چې دا ډول سپیځلې پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوئ.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلنۍ
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300

د شریعت تبصره

در لیست معرفي شده ملیشه ها نام هاي افرادي به چشم میخورد که مشهور بالفساد میباشند

قضیه جاري افغانستان که ابعاد وسیع جهاني پیدا کرده و سبب شده است که قسمت بیشتر سرمایه هاي مادي و معنوي ما را محو و نابود نماید ، در نتیجه، خود خواهي ملیشه ها و عناصر ائتلافي مجاهد نما به اوشان- که غرض بر آورده کردن اهداف شوم سیاسي و اقتصادي دشمنان سالمیت ، تمامیت ارضي ، حاکمیت دیني و ملي کشور ما- به میان آمده و به درازا کشیده شده است .

گروه هاي از ملیشه ها و عناصر مجاهد نما که در نتیجه، یك نقشه و طرح خاینانه خارجي علیه جهاد و سالمیت کشور ما در تشکیل به اصطلاح دولت اسلامي با هم گرد آورده شده اند و قدرت سیاسي کشور از تجیب به آنها تفویض گردید و ترکیب حکومت و کابینه آنها روي فیصدي هاي قومي و لساني شکل و رنگ گرفت، دشمنان جهاد و سالمیت کشور توسط همین اداره ائتلافي، ضربات جبران ناپذیري بر پیکر وحدت ملي و اساسات اقتصادي ، سیاسي و نظامي کشور ما وارد آوردند . اردو و نیروي عسکري کشور ما که عبارت از اردوي منظم و تا دندان مسلح به وسایل مدرن نظامي اداره سابقه کمونیستي نجیب و نیروي آبدیده و مقاوم نظامي مجاهدین بود و از نگاه وسایل حربي و لوژستیکي و تجارب جنگي به خصوص نیرو هاي پیاده آن از بزرگترین و قوي ترین نیرو هاي نظامي در منطقه محسوب میگردید و با یك تغیر کیفي و تصفیه جزئي در کدر آن به خوبي میتوانست که به نصرت خداوندي حافظ و پیاده کننده اهداف مقدس جهاد و انقلاب اسلامي و محافظ تمامیت ارضي، وحدت ملي و استقلال کشور ما باشد، توسط همین ائتلافیون بي هدف و گماریده شده ، متلاشي و از بین برده شد و به این صورت افغانستان براي سالهاي سال از داشتن یك اردوي منظم و محافظ ارزش هاي دیني و ملي محروم گشتانده شد و دشمنان منطقوي قسم خورده تاریخي وحدت دیني، ملي و استقلال کشور ما متاسفانه به بزرگترین هدف و آرزوي خود دست یافتند و آنچیزي را که روسها توسط غلامان کمونیستي خلقي و پرچمي خود نتوانسته بودند که انجام دهند توسط اوشان به خوبي و حتي از توقوع بالا تر با اشتراك و همکاري فعال ایران انجام دادند .

گماشته گان اجنبي (ائتلافیون مستقر فعلاً در شمال کشور) نه تنها کشور را از داشتن یك اردوي منظم محروم کردند، بلکه تمام نهاد ها و اساسات و سرمایه هاي اداري ، تعلیمي، فرهنگي، سیاسي، اقتصادي و ملي ما را به کلي از بین بردند و آنچه براي قیام و قوام یك نظام و دولت ضروري پنداشته میشد به یك کلمه همه را تخریب کردند و عملاً افغانستان را از داشتن یك اداره دولتي محروم و با واحد ها و نظام هاي قومي ملك الطوایفي و قوماندان سالاري تقسیم و تجزیه نمودند و هریك براي بر آورده شدن هوس هاي شیطاني، قومي و گروهي خود به چنین رقابت هاي رو آوردند که در نتیجه آن هزاران تن از هموطنان بي گناه مان به شکل بسیار فجیع به شهادت رسیدند، بر نوامیس آنها تجاوز هاي بیدریغ صورت گرفت و ... بعد از انجام چنین خیانت هاي ملي و دیني و مرتکب شدن بزرگترین جنایت ها به ارتباط سر، مال و ناموس مردم توسط ملیشه ها (جبهه متحد فعلي) آنها را در کدام ردیف باید قرار داد آیا در ردیف صالحین، ابرار و خادمین دین و وطن و یا در ردیف خائنین به دین و وطن و در ردیف جنایتکاران در مقابل سر، مال و ناموس مردم ؟

جواب این پرسش ها را به مردم خود و جهانیان به خصوص به دانشمندان و علما، رشته هاي علوم حقوقي و قضایي سپاریده اضافه مینمائیم که ملیشه ها علاوه بر انجام دادن اعمال سیاه متذکره ، نه در گذشته ها و نه فعلاً و نه در آینده توانایي این را خواهند داشت و نه گذاشته خواهند شد که اقلاً در میان خود روي مسایل و اساسات یك نظام و تشکیل آن متفق و متحد شوند. تجربه نشان داده است که آنها براي رفع مشکل کشور و تشکیل یك نظام و اداره و خدمت به مردم به میدان آورده نشده اند بلکه براي زمینه سازي بر آورده شدن اهداف و مقاصد شوم اجنبي ها ، حمایه و تقویه شده و به همین اساس همه نهاد هاي دولتي و سرمایه هاي ملي کشور را تخریب و از بین برده و وحدت ملي را شدیداً متاثر ساختند تا مانع در مقابل بر آورده شدن اهداف خارجي ها در میان نباشد .

تحریك اسلامي طالبان به قدر توان و استعداد خویش در راه تأمین وحدت و حاکمیت دیني ، ملي و اداري ، تمامیت ارضي و استقلال کشور و تشکیل یك حکومت واحد مرکزي قدم هاي متین و سنجیده گذاشته و در راه تأمین اهداف و امیال متذکره در قدم اول راه مذاکره و مفاهمه را با هر قوماندان ، جبهه، تنظیم و فرد مقدم شمرده و ترجیح داده است . در صورتیکه جانب مقابل آماده مذاکره و پذیرش اهداف اسلامي ، ملي و انساني تحریك نشده اند لابد دست به سلاح برده و لله الحمد بیشتر از ۸۰٪ خاك کشور را با هم متحد و حاکمیت واحد اسلامي را در آن قایم نموده اند . امارت اسلامي افغانستان کما في السابق به حل قضیه افغانستان از طریق مذاکره و مفاهمه که در آن حاکمیت دیني و ملي کشور ما و منافع مردم مطمح نظر باشد معتقد بوده و آن را راه اصولي حل قضیه کشور میداند، به همین اساس امارت اسلامي افغانستان پیشنهاد کمیسیون از علماي را که داراي اسناد معتبر علمي ، تقوا، مقام و وجاهت دیني و اجتماعي در میان مردم باشند پیشنهاد نمود که در پیشنهاد متذکره علاوه شده بود علماي که براي کمیسیون مذکور معرفي میشوند باید داراي شرایط متذکره و سند تحریري صلاحیت فیصله از اطراف معرفي کننده را در دست داشته باشند که متاسفانه جبهه به اصطلاح متحد ملي در لیست ارسالي خویش که توسط مقامات پاکستاني تحویل امارت اسلامي شده است شرایط توافق شده قبلي در آن مد نظر گرفته نشده است ، در لیست علماي ملیشه ها اشخاصي زیاد دیده میشوند که مشهور بالفساد بوده به خون صدها انسان مصؤن الدم دست شان آلوده میباشد، در دست درازي به اموال و حتي نوامیس مردم وسیعاً متهم میباشند و اسماي اشخاصي هم در آن لیست به نظر میخورد که اصلاً علماي دیني نمي باشند ، با آنها ممکن نخواهد بود که با نداشتن علم و آگاهي لازم از مسایل علمي، دیني به حل‌مشکلات‌قضیه‌افغانستان‌زبان‌بگشایند‌چه‌ماند‌که‌آنها‌در‌راه‌پیدا‌کردن‌بزرگترین‌معضله‌دیني‌و ملي‌کشور‌طرح‌و‌نظر‌داشته‌و‌راه‌عقد‌و‌حل‌معضله‌را‌نشان‌دهي‌نمایند. دیگر‌اینکه‌در‌تفاهم‌و‌توافق قبلي‌گنجانیده‌شده‌بود‌علماي‌که‌به‌کمیسیون‌معرفي‌میشوند‌باید‌کتباً‌به‌آنها‌صلاحیت‌فیصله‌داده‌شده باشد‌در‌حالیکه‌ائتلافیون‌چنین‌نکردند، چه‌تضمین‌در‌میان‌خواهد‌بود‌که‌آنها‌به‌فیصله‌افراد‌معرفي‌شده خود‌اگر‌قرار‌باشد‌که‌به‌آنها‌حق‌فیصله‌داده‌شود‌گردن‌بنهند‌و‌آن‌را‌قبول‌نمایند ؟

مکرراً اظهار میداریم که امارت اسلامي افغانستان به فیصله قبلي خویش پابند و استوار بوده و از ائتلافیون شمال میخواهد که در این راه مخلصانه قدم گذاشته و علماي را معرفي نمایند که مشهور به علمیت و تقوا باشند و به آنها کتباً صلاحیت هر نوع فیصله شرعي را بدهند تا در فضاي اطمینان و اعتماد کمیسیون کار خود را آغاز و به نصرت الهي به نتیجه مطلوب برسند .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by:
Govt. Printing Press

عراق د انساني مدنیت زانګو، د استکبار د ...

عثماني امپراتورۍ تر څلور سوه کالو پورې بغداد تر خپل ولکې لاندې درلود تر څو چې د انګلیسانو د هجوم په اثر په ۱۹۱۷ کې د هغوي برلاسي له منځه ولاړه .په ۱۹۳۲ کال کې عراق د ملتونو په لیګ کې د یو مستقل هیواد په حیث ومنل شو .

د ۱۹۸۷ میلادي کال د مي په ۱۷ نیټه دوه فرانسوي اګزوسیت توغندي چې د یوې عراقي جنګي الوتکې په ذریعه ګوذار شوي ؤ د امریکې د متحده ایالاتو د ستارك نومي جنګي بېړۍ په بدنه باندې چې د فارس په خلیج کې ګرځیده ولګیدل. د هغه په اثر اوه دیرش امریکایي بېړۍ چلوونکي مړه شول . متحده ایالتو د عراق د هغه مهال پر دښمن یعني ایران باندې په چټك عمل لاس پورې کړ د متحده ایالاتو بحري قواؤ د ایران ګرځنده اکتشافي بېړۍ تر حملي لاندې ونیوله. هغه هم پدې پلمه چې دا بېړۍ د کویټ د تیلو د ټانکرونو په مقابل کې یو ګواښ دي کویټي تیل چې د عراق د نظامي هڅو د ترلاسه کولو په خاطر خرڅیده په ډېره آسانۍ د تیلو مارکیټ ته لاره وموندله د ایران او عراق د(؟)ته کلتي مګرې په ترڅ کې د امریکې ستراتیژي د هغه مشهور عربي متل څخه پیروي کوله چې ویل یې : « ځما د دښمن دښمن ځما دوست دي » .

په هغه وخت کې که عراق د لومړي ځل لپاره د امریکې په اشاره په کړکیچ لاس پورې کړ او د لومړي ځل لپاره یې کیمیاوي وسله استعمال کړه مګر بیا هم امریکې خپل مخ بل خوا واړاوه. ګواکې چې هیڅ هم نه دي پېښ شوي ځکه چې هغه وخت امریکا د ایران له ایت الله ګانو څخه په ویره کې وه او صدام حسین ورته هومره شریر نه ښکارېده . پخواني شوروي اتحاد له افغانستان څخه په تشویش کې و او د خپلو مسلمانانو میلیتونو څخه په ویره کې و. فرانسي تیلو ته اړتیا درلوده نو ځکه عراق ته د تیلو په بدل کې عصري پوځي تکنالوژي لکه ۱۳۳ وزره د میراژ اف . ا.جنګي الوتکې او دا ګزوسیت توغندي ورکړل چې هماغه توغندي د امریکې ستارك نومي بیړۍ دوب کړه . په ډیره سرسام آوره توګه عراق ته د غرب او شوروي له خوا اقتصادي، نظامي او استخباراتي مرستې لیږدول کیدې . او په دې توګه یوه نوې جیوپولټیك حالت په دې منطقه کې را منځ ته شو . په کال ۱۹۹۱ عراق پر کویټ نظامي برغل وکړ . ځکه تل یې دا ادعا درلوده چې کویټ د عراق نه بیلیدونکې برخه ده . ددې برغل په نتیجه کې د امریکې متحده ایالاتو د خپلو غربي انډیوالانو او محلي حکومتونو په یو لاس کولو سره وروسته د ویتنام له جنګ څخه د متحده ایالاتو ډیر ستر پوځي عملیات د عراق پر ضد د صحرا د طوفان په نوم پیل کړل چې د عراق ډیر ځواکمن پوځي ماشین یې دړې وړې کړ . او د عراق پر مظلوم ولس باندې د امنیت شورا د غدر نه ډکې پریکړې په اثر راز راز مصیبتونه تحمیل شول عراق چې د فارس د خلیج یو ډیر بډاي او عصري هیواد ؤکولاي شواي چې خپل د تیلو د آزاد خرڅولو له لیارې خپل د ولس ضروري اړتیاوې پوره کړي واي مګر افسوس چې استکباري قوتونه چې اسلامي ولسونه یې په راز راز اسارتونو کې ساتلي دي د عراق د تیلو د خرڅلاو سهمیه یې صرف د دوه میلیارده ډالرو په اندازه هغه هم د بین المللي څارنې لاندې وټاکله چې په هیڅ ډول ددې هیواد اړتیاوې نه شي پوره کولاي . د عراق مسلمان او مظلوم ولس چې د جهاني استکبار د دسیسو قرباني شویدي د دارو او درملو او د خوراکي موادو د نشتوالي له امله په سخته تنګسیا کې نغښتي ده او په زرهاؤ عراقي کوچنیان د دارو او درملو د نشتوالي او د سؤ تغذي له امله مري او عراقي ښځې په خاصه توګه د لوږې او ناروغیو د جدي خطراتو سره مخامخ دي .

د عراق حکومت چې د امنیت شورا ټول غیر عادلانه شرطونه یې پر ځان له ناچارې څخه ومنل اوس بیا استکباري قوتونو ورته د کیمیاوي او بیولوژیکي وسلو د لټون په پلمه غابښونه تیره کړیدي تر څو چې د مدنیت او انسانیت دا آخرې جرړې هم پدې مسلمان هیواد کې له منځه یوسي. داپلا متحده ایالات د ایران او اسرائیلو د خوشحالولو په خاطر په دې کار لاس پورې کوي په داسې حال کې چې د نړۍ اکثرو هیوادونو د یوه کوچني هیواد په مقابل کې د امریکې ددې سلطې غوښتونکي سیاست په کلکه غندلې مګر بیا هم د یوې لوی پوځي او بشري ناتار خطر موجود دي .

دلته اسلامي دولتونو ته په کار ده چې د هوښیارتیا څخه کار واخلي او خپل دوست او دښمن وپیژني او دغه حالت د صهیونیستي حکومت د فجایعو په مقابل کې پرتله کړي .

ولې د امنیت شورا ، اسرائیل د اتومي او کیمیاوي غیر قانوني وسلو د ځیړلو هاند او کوښښ نه کوي ؟! پداسې حال کې چې د عراق هیواد په کافي اندازه د امنیت شورا غیر انساني او غیر عادلانه فرمایښتونو ته غاړه ایښې ده نو په کوم موجه دلیل پدې خوار او مظلوم اما په اصل کې بډاي هیواد باندې خپل شوم مقصدونه تپي؟ دا یې سبب چې اسلامي امت خداي مکړه د اسلام د مبین دین د اساسي کرنلارو څخه انحراف کړیدي. د کفري قوتونو د فکري او اقتصادي اغیزې لاندې د غلامي پیټې پر ځان منلي دي چې ان د خپل اسلامي امت د یو جز د له منځه وړلو سربیره غلي ناست دي او حتی استکباري قوتونو ته د پوځي عملیاتو لپاره هوایي اډې او بحري قرارګاوې په اختیار کې ورکوي له دې څخه بې خبره چې سبا به دغه ناوړه چلند پر هغه هم تپل کیږي اسلامي امت ته په کار ده چې په یو غږ او یو آواز د استکبار جبر ته غابښ ماتوونکي ځواب ورکړي تر څو چې هیڅ یو کفري برغلګر د هغوی په اسلامي حریم باندې د تجاوز خیال ونکړي .